ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03

OPEN ACCESS
CC BY NC

ڈاکٹر شہاب الدین
لیکچرار، گورنمنٹ ڈگری کالج، جوور کالج، بونیر

# د ډاکټر سمندر یوسفزي " د لونګو رشې" په شاعرۍ کښې ارسال المثل (متلونه)

**Dr Shahab Udin ***
Lecturer, Govt Degree College Jowar, Buner.

***Corresponding Author:**

## Proverbs in the Poetry of “Da Lawango Rashy” By Dr. Smandar Yousafzi

The word "Proverb" refers to a short, wise saying OR phrase that express a general truth, piece of advice or guidance. Proverbs in Urdu kahawt (Urdu) zarb-ul-misl (Urdu) are concise, wise saying reflecting cultural values, traditions and life experiences. They convey valuable lessons, guidance and insights. Dr Samandar yousafzi use of Proverbs in his poetry in simple words. His poetic expression, rich in proverbs, beautifully convey complex emotions, making his work even more captivating.

**Key Words:** *Proverbs, Poetry, Da Lawango Rashy, Phrase, Urdu Kahawt, Zarb-ul-misl, Poetic.*

"د لونګو رشې" د ډاکټر سمندر یوسفزي دویمه شعري ټولګه ده. دا کتاب ټول په ټوله په غزلو او قطعو مشتمل دے. په کال 2023ء د اګست په میاشت کښې د اعراف پرنټرز له خوا خپور شوے دے. د چاپ شمېر تعداد ئې پوره زر او بیعه ئې درې سوه روپۍ ده. ترون ئې د پښتنو د هرې ګټې لوټې په نوم "چې زما زړۀ پرې راټول دے" کړے دے. په دې کتاب دوو سترو لیکوالانو خپل تاثرات قلمبند کړي دي. چې پکښې د رحمت شاه سائل "د سمندر د خیالونو جهان" پروفېسر ډاکټر یار محمد

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

مغموم خټک د "ښاغلي سمندر یو روماني شاعر" او د "خپلي خبرې" په عنوان خپل لیک کړے دے. د ډاکټر سمندر یوسفزي دا کتاب په پښتو ادب کښې د غزل په برخه کښې یوه ګټوره اضافه ده. کتاب که یو خوا ته بلها موضوعات لکه ترقي پسندي، جمالیات، عشق وروماني، نرګسیت، امن پرستي، اصلاحي رنګ، طنزیه شاعري، نسواني رنګ، اسلامي افکار، د عصر ترجماني او پښتو پښتونولي لري. نو بل خوا په فني لحاظ سره هم پکښې نوي نوي تشبیهات، استعارې، لفظي او معنوي صنعتونه، نوي نوي تراکیب، ادبي اصطلاحات، محاورې، روزمرې او بلها متلونه موندې شي. ډاکټر سمندر یوسفزي دغه کتاب "د لونګو رشې" په فني لحاظ سره په هر لحاظ مکمل، پوره او کره کتاب دے. د هغوي په کتاب هر غزل کښې په څه نه څه حواله شعوري طور سره متل راځاے کولو کوشش کړے.

متل څه ته وائي دا کله او څنګه جوړېږي. او بیا عام کیږي څنګه. نوداسې ده چې هر متل اولسي پنګه وي. ځکه نو وخت په وخت په خپله جوړېږي او خورېږي. بیا د علاقو د فرق په وجه هم کله نه کله د یوې علاقې د متل نه د بلې علاقې اولس ناخبره وي اکثر وئیلې کیږي چې د هر متل په شاه یوه واقعه مشاهده او یا تجربه ضرور وي او متل د هغې په وجه په وجود کښې ارځي چې ورسره دغه ټوله واقعه یا مشاهده یا تجربه په یو څه ټکیو کښې راغونډه شي. نو ځکه د متل مطلب پخه خبره یا د کاڼي کرښه او یا حقیقي خبره ګڼلې شي. د متلونو ضرب الامثال په باره کښې صائم فضل معبود ډېر ګټور لیک کړے دے.

> "متل د ژبې په لړ کښې ډېر اهمیت لري او ډېره اوږده خبره په لنډه او مختصره توګه پوره کوي چې د ویونکي خبره پرې هم تکمیل ته اورسي او د اورېدونکي دپاره په اسانه او په

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

مختصره توکه د پوهېدو یوه اسانه ذریعه وي. د وېنا په ټولو ژبو کښې د دې په اهمیت خبره شوې ده او د اخلاقو پوره تصویر کشي موجوده وي. بلکې د پښتو نالیکلے دستور ورته وئیلې شي.[1]

د متلونو د اهمیت او ارزښت نه انکار نه شي کېدې. دا زمونږ د فولکلور یوه مهمه برخه ده. دغه د مشرانو د خلې سوچه والې د معنو او برجستګی په سبب په بهتره ادائیګی او په دعیان په شکلا کښې زیاتوه کړې ده. دا یوه هغه مختصره ولې معنی خېزې جملې ته وئیلے شي چې د اوږدې مودې او غټې تجربې نچوړ او حاصل وي. د متل په جوړېدو پوره پوره زمانې لګېدلے شي. ضرب الامثال د یو خبر رسولو او د خپلې مدعا څرګندولو ښکاره کولو او موثر راوستلو یوه ګټوره اسلحه او اله وي. زمونږ په معاشره کښې ضرب المثل ارزښت ډېر اهم دے. ولې چې د الله د کلام او د رسول د وېنا نه هم ورته ډېره پاملرنه کولې شي. د متلونو د ارزښت او اهمیت په حقله ډاکټر وزیر شادان داسې وئیلې دي.

"متل د ژوند د تجربو نه پس د مشرانو د خلې وتلے هغه خبرې دي. چې هم انتهائي مختصر مګر جامع وي. هم ساده مګر د معنې په لحاظ د کانې د کرښې حېثیت لري. متل په شعر کښې داسې ځایول چې فکري او فني لحاظ مجروح نه شي. لوئے هنر دے متل خوږ لنډ جامع ساده او د مطلب نه ډک وي. دغه رنګ چې کوم شعرونه زیات جامعیت لري او خوږوالے هم لري او ورسره ورسره د معنی او مفهوم په حواله شته من هم وي او په دغه شعرونو کښې د ټکیو ترون اسان او روان وي. هم

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03



دغه وجه وي چې د متل واله شعرونو ته ډېر زيات د پوخ والي درجه مېلاو شوي وي.[2]

په کومه ژبه کښې چې په نثر او نظم دواړو ليکونو کښې ضرب الامثال خوندي شي. نو په هغې کښې فصاحت او بلاغت زيات وي. او ښکاره خبره ده چې ډېر ګران پيچيده ګټور او سپېڅلي خيالات پکښې په سليسه ژبه کښې بيان شي. ډاکټر سمندر يوسفزي هم د پښتنې معاشري ژوند ژواک ژوره کتنه او لټونه کړې ده او دغه هر څه ئې په ډېر هنر، فن او پخته کارۍ سره په خپلو شعرونو کښې د متل په قالب کښې راوړي دي. دغه هر څه په ډېر هنر او فن سره د متلونو په شکل کښې د خلقو وړاندې ايښودي دي. هغوي چې کوم متلونه په خپل کلام کښې راوړي دي دلته ئې ذکر کولے شي.

په پښتو کښې متل دے چې په رڼا ورځ ئې غلا کړې ده دا متل په هغه ځائې کښې پکار راوړلې شي چې څوک ډېر ناجائزه کار اوکړي يا ډېره زړورتيا وکړي يا داسې يو کار چې بېخي هډو عقل ئې نه مني دغه متل سمندر يوسفزي د طنز په توګه راوړے دے لکه دا اوګورئ.

"بيا زمونږ کالۀ لوټ
شوے په رڼا ورځ
بيا زمونږ د کور بيتي
کړے کهنډر دے[3]

بل متل خلق عموماً په داسې موقعو په استعمال کښې راولي چې څوک يو روان شوے کار وران کړي يا هډو داسې کار چې سمېدو طمع ئې نه وي يا عموماً د هغه خلقو له پاره چې بېخي په خبره نه پوهېږي. متل داسې دے چې "فلانکے خو سم په بار کښې کوږ لرګے دے" ولې چې هر طرف ته او هر چا ته ترې نقصان رسېدو خطره وي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلہ

"چرته چې يم هلته به
خود د خلقو ساه بنده
وي
لکه په بار کښې کوږ
لرګے داسې نظام او زۀ[4]

دغه رنګ د پښتو يو مشهور متل دے "د کوږ شپه په کور نه کېږي" چې اسان مطلب ئې دغه جوړېږي چې مرګ په خپله نېټه راځي که هر څه عقل سوچ او تدبير جوړ کړي خو د مرګ نېټه ورستو کېږي نه لکه دا شعر اوګورئ.

"په دې وطن کښې د کور
شپه د ګور نه کمه نه ده
په دې وطن کښې که ډېر
لوړ کړي ديوالونه سړے[5]

د پښتو يو عام او مشهور متل دے "چې تېر وخت په بېرته نۀ راځي" يا "توکلي لاړې بېرته خلې له نه راځي" يا "د ورخ تېرې اوبه بېرته نه جاروځي" مطلب يو کار په وخت نه کولو په باره کښې دا متل عموماً راوړلې شي. لکه دا شعر اوګورئ.

"ديدن د يار د پسرلي
د هوا تېره چپه
په بېرته نه راځي بيا
ډېر مروړي لاسونه سړے[6]

دغه پورتنے متل په داسې ټکيو کښې هم استعمالولے شي چې د هر څيز د استعمال خپل يو وخت وي او هغه وخت تېر شي نو څيز بې فائدې شي لکه اختر چې تېر شي نو نکريزې په ديوال اوتپه.

بل متل "د زوراورو غوئے په لوره خيژي" يا "د زوراورو سره هيڅ نه کېږي" يا "د زوراورو سره کلے نه کېږي" يا "د زوراورو نه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

لرے یا غلے" یا "د زوراورو سره زور نه کیږي" دغه متل ئې داسې راځاے کړے دے.

"خدایا لوئے زړهٔ خو
دې راکړے دے خو زور
دې نه دے
دا لېونے د زوراورو
زور ته لارې نیسي[7]

کله کله خلق یو متل په خبره کښې استعمالوي چې "ځائے ځائے ته ګوره نو غږیږه" یا "د بې دینه په مذهب بې پیره شه پوهیږي" یا "ځاے ځاے ته به ګورې نو خبره به کوې". نو دغه متل ئې هم ډېر په ښکلي او موثر انداز کښې راوړے دے چې د ها سره ها مېلاوهل ښه دي ځان له کار کتل نه دي پکار.

"اوس سمندر هم پوهه
شوے دے د وخت په نبض
اوس سمندر چې هم څه
وائي نو مېلس ته ګوري[8]

د پښتو یو بل متل دے "چې الوتي مرغۍ په لاس نه راځي". د دې متل عام او ساده مطلب داسې دے چې کله د یو کار وخت تېر شي او کار قضا شي نو بیا د افسوس نه څه نه جوړیږي. خو بیا هم کله کله دغه متل معکوس هم راوړلے شي. کله کله انسان په خپلو کړو پښېمانه شي او روغه جوړه اوشي دغه متل ئې ډېر خوندور راوړې دے.

"متنفره وه په څه له
دغې نه یم خبر
خو هغه تلې مرغۍ بیا
ما ته راورسېده[9]

انسان که هر څنګه دے که وړوکے دے که ځوان، که روغ دے که ناجوړه، که نر دے که ښځه، که په روزګار دے که بې روزګاره خو د غم سره

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03
ماخذ تحقیقی مجلّہ

به اموخته وي داسې انسان نشته چې هغه به خامخا خوشحاله وي بالکل نه بلکې په څه نه څه حواله به غمژن وي ځکه چې ګل سره ازغي خامخا وي نه خو ګل بې ازغو وي او نه زړهٔ به د غمه خالي وي.

"چرته بت کده هم له
صنمه به خالي وي
داسې زړهٔ به هم وي چې
له غمه به خالي وي[10]

بل يو متل داسې دے چې "د يو سپي بل سپے بدي شي" يا "د يو دکاندار بل دکاندار بدي شي" "د پښتون بل پښتون بدي شي" يا "د ملا بل ملا بدي شي" او يا "د يو ورور بل ورور بدي شي" يا "ورور د ورور د لاسه مري" حالانکې يو ورور د بل ورور مېنې وي خو حرص او سپي توب پکښې غرض اچولے دے چې د ورور ګټه د چا ګټه ده. دغه متل ئې داسې راورے دے.

"پست ذهنيت دے ګنې دا ګټه
د چا ګټه ده
په خپل کاله کښې چې څوک
هم خپل ورور ته لارې نيسي[11]

يو متل دے چې "شېخ فريده چپه خله بهتري ده" يا په خاموشۍ کښې پټ تندر پروت وي او په خاموشۍ کښې د کاميابۍ راز پټ وي دغه متل ئې هم ډېر چابک راوړے دے.

"په خاموشۍ کښې د پټ
زور اندازه نشته ورته
د سمندر به خلق کوم يو
لور ته لارې نيسي[12]

بل يو مشهور متل دے چې "بل ته کوهے کنې نو په خپله پکښې غورځيږي" يا دا متل داسې هم دے "چې مه کوه په چا چرې او به شي په تا" يا

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03



"چې څه کري هغه به رېبي". دغه متل ئې داسې راوړے دے.

"هغه کور به څنګ له غمه
نه خالي شي
چې پردي کور ته مدام
هسې جنجال وړي[13]

دغه پورتنې متل په ډېر قسمه استمال شوے دے خو ساده او اسان مطلب ئې دا جوړېږي چې د چا سره بد کول نه دي پکار که بل ته دې ګرانه جوړه کړله نو ارو مرو به درته مشکله پېښېږي.

دغه رنګ يو اسان او مزيدار متل دے "چې بڼ د زمرو نه نۀ خالي کيږي" يا "ځنګل د زمرو نه نۀ خالي کيږي". "د يو کس په کمې باندې افسوس نه کول" لکه دا متل.

"دا ځنګل دے د زمرو
نه خالي نۀ دے
تۀ به څومره ککرۍ کړې
زمونږ خاورې[14]

دا متل ئې داسې هم راوړے دے
"رښتيا دي چې ځنګل چرته
خالي د زمرو نۀ وي
مئين ؤ څوک په جار جار
ئې وئيل زما په شان[15]

بل يو متل دے "د خدائے او انسان يا بنده اراده يوه نه ده" يا "د انسان او خدائے ارادې جدا جدا دي". چې انسان يو کار څنګه غواړي هغه هغه شان او نه شي بلکې د هغې خلاف اوشي. يا چې کوم کار غواړي هغه به زر نه پوره کيږي. دغه متل اوګورئ.

"چې کوم يو نه غواړي هغه
کار په اسانه کيږي

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

سړے بېخي په ارادو د
اسمان نه پوهيږي[16]

پردي چرته هم نۀ خپلیږي د پښتو یوه ټپه ده چې.

"پردي راوړي نه خپليږي
که زړۀ قېمه کړې ورته ډک کړې
پلېټونه[17]

هم د دغه ټپې په رنګ يو بل متل چې لږ لږ سمون خوري پردے کټ د نيمې شپې وي. مطلب پردے څيز پردے وي. بهروسه پرې نه ده پکار که هر څومره خواري ورسره اوکړې شي خو فضول وي يا پردي که هر څومره نازولې اوساتلے شي خو خپل به نه شي.

"دا پردي راوړي
چرته نه خپلېږي
محبت هسې ځوانۍ
کړې زمونږ خاورې[18]

کله کله يو څوک چا سره ښه نه شي کولې او نه ئې د بدو وس وي. خو کوشش کوي چې په بدو صرفه ونه کړې. اکثر داسې بې کاره او فضول خلق هم په ټولنه کښې وي چې خلقو له پېغورونه ورکوي چې بنده د مخکښې تلو نه منع کړي خو په دروغه ځان ورته ښه ښه کوي. هسې ورته ځان ښه ښه کوي او نور کوشش کوي چې په زخمونو د مرهم پټۍ په ځاے مالګې دوړوي.

"چې زما نه ئې بيا خو
شوخه څنګه مه رادرومه
مالګې مې مه ګرځوه نورې
په زخمونو باندې[19]

ځينې خلق متل کوي چې "دغه ارمان به ځان سره تر ګوره وړمه" ولې چې اکثر په دې دنيا ئې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03


د پوره کېدو امید پاتې نه شي. په دې کښې یا د غریبۍ لاس وي یا ځینې خپل خلق ئې مخ نیوې کوي نو اکثر دغه ارمان نه پوره کیږي. لکه دامتل.

"د دغې غاړې په ارمان
به ځم تر ګوره پورې
د کومې غاړې په امېل
کښې چې غمې برېښي[20]

دغه رنګ سمندر یوسفزي په دې شعري ټولګه "د لونګو رشې" کښې نور هم بلها متلونه راوړي دي چې د خپل خوږوالي، معنویت او برجستګۍ سبب په بهتره ادائیګۍ او په حسن بیان کښې زیاتونه کړي دي. او دغه متلونو په ذریعه ئې مورنۍ ژبه د علم خزانه ګرځولې ده.

کله کله خلق وائي چې د سړي ګټې نه تود تاوان ښه دے" یا "په محبت کښې هر څه جائز دي" دغه متل ئې داسې راوړے دے.

"زۀ په داسې جوارۍ
باندې اخته یم
چې بېلمه پکښې هر څه
په بري یم[21]

بل متل چې د فلانکي خو اوبه بلدېږي او زمونږه تېل نه بلدېږي. دا متل طنزاً پکارولے شوے دے.

"کله کله لکه تېل هسې
لمبه شي
کله کله کوي سمه د
اوبو خوي[22]

بل متل "سبا چا لیدلے دے" یا "ستا سبا به کله راځي" یا "په سبا سبا کښې ډېر کلونه تېر شول" دغه ئې داسې راوړے دے.

"زړۀ ئې کېدو خو څه
چل وو چې مې په خوا

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03


نه راتله
ډېر مې سبا سبا کوله
خو سبا نه راتله[23]

بل متل چې "پښتانه په کور راغلي دښمن له هم پناه ورکوي" یا "پښتانه د بل عزت خپل عزت ګڼي" یا "پښتانه په دوستۍ سر ورکوي" لکه دا متل.

"په کور چې راشي مېلمانه
پښتانهٔ نه سپکوي
په دښمنانو رابللو ورته
هیڅ نه وایم[24]

بل متل "ملا نورو ته لګیا وي وعظونه کوي خو خپله په یو هم عمل نه کوي یا نورو ته مسئلې بیانوي خو چرې ئې پرې عمل نه دے کړے. دغه متل ئې هم په ملیانو د طنز په توګه راوړے دے لکه دا شعر اوګورئ.

"په رشتیا که د هغهٔ
پرې هم عمل وي
دا غوړونه چې په څه
زمونږ ملا خوري[25]

مختصراً مونږ دا وئیلے شو چې سمندر د فن اوستاذ دے او په فولکلوري توکو لکه د محاوري غوندې متل هم په خپل کلام کښې د راځایولو شعوري تابیا لرلې ده. او د یو مېړني استاذ، محقق او شاعر په حېث د فن او هنر تر څنګه له پښتو لسانیاتو هم ژوره مطالعه لري. او د دې نه سربېره د پوهه هنرمند او څېړنکار په حېث په خپل شعري تخلیق "د لونګو رشې" کښې دمتل په سم ځاے پکارولو او راوړلو لاس برے او پوهه لري.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-03

ماخذ تحقیقی مجلہ

## حوالې

١صائم، فضل معبود، تلي راغلي متلونه، پېښور، عامر پرنټ اېنډ پبلشرز، خورونکي تانړه ادبي ټولنه مالاکنډ، اشاعت 2018ء، مخ 12
٢وزير شادان، ډاکټر، او بنارس خان، خټک، ډاکټر اقبال نسيم خټک (کار او زيار)، پېښور، اعراف پرنټرز محله جنګي، مخونه 307، 308
٣سمندر يوسفزے، ډاکټر، دلونګ ورشې، پېښور، اعراف پرنټرز، اګست 2023، مخ 49
٤دغه کتاب، پاڼه 62
٥دغه کتاب، پاڼه 78
٦دغه کتاب، دغه پاڼه
٧دلونګ ورشې، از ډاکټر سمندر يوسفزے، پاڼه 35
٨دغه کتاب، پاڼه 84
٩دغه کتاب، پاڼه 94
١٠دغه کتاب، پاڼه 96
١١دغه کتاب، پاڼه 35
١٢همدغه اثر، همدغه مخ
١٣همدغه اثر، مخ 40
١٤دلونګ ورشې، از ډاکټر سمندر يوسفزے، پاڼه 151
١٥دغه کتاب، پاڼه 72
١٦دغه کتاب، پاڼه 155
١٧درياب، شېر علي، دهر چمن ګلونه، ټپې، پېښور، زېب ارټ پبلشرز، محله جنګي، ستمبر 1985، سنبله 1364هـ، مخ 25
١٨سمندر يوسفزے، ډاکټر، دلونګ ورشې، مخ 151
١٩دغه کتاب، پاڼه 156
٢٠دغه کتاب، پاڼه 200
٢١دغه کتاب، پاڼه 38
٢٢دغه کتاب، پاڼه 179
٢٣دغه کتاب، پاڼه 183
٢٤دغه کتاب، پاڼه 194
٢٥دغه کتاب، پاڼه 178